AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات بدوش نویسندهٔ مطلب میباشد

آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۶/۰۶

# «سر تر پایه درست وجود واړه هنر یم»

## خوشال پوهنه

## اشعار

## ۱۴

خوشال له خپله وخته تر اوسه پورې معاصر دی. خوشال د هر نسل له پاره خبرې لري او د تولو له پاره د غريدو له پاره ژبه، د ده نظريات او خبرې له اوسنی زماني سره اړخ لګوي، نو ځکه ورته معاصر ويلی شو.

خوشال پښتو شعر ته څه ورکړي؟

د دې پوښتنې ځواب هغه وخت تر لاسه کيدای شي چې د ده آثار او اشعار په ژوره توګه په ډيرې حوصلې سره ولوستل شي.

د خوشال پوهنې په دولسمه برخه کې ما ويلي وو چې ځنګه پوهاند دوکتور بهاالدين مجروح، د «ځانځاني ښامار» په بيلابيلو برخو کې د خوشال اشعار د خپلو خبرو د قوت او لاسوند له پاره راوړي. د ځاځاني ښامار» د «لومړي څرخ، تور ښامار د مرګ په لور ځي» (مجروح پوهاند دوکتور، ځانځاني ښامار، خپرونکی: د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۶ کال، ۱۹ مخ) په پيل کې، د خوشال دا بيتونه را اخيستل شوي دي:

په درون کې مې پـراتــه دي ډير ګـنجونـه
بـه مـانـا کـې لـکـه کـان د سيم او زر يـم

کـه مي لاس لـکـه دريــاب خـالي ليده شي
د تـيـټـر دنـنـه ډک پــه دُر ګــوهـــر يـم

کـه مي حلق له تندې وچ شي په همت کې
پـروا دار کـلـه پــه حـوض د کـوثر يـم

لا يـو شور راخـنی لاړ نــه وي بـل راشـي
مـګـر زه پيـدا پـه ورځ د شــور و شر يـم

خوشال هيڅ کله بې مضمونه او بې موضوع نه دی پاتې شوی، د همدې له پاره د ده په اشعارو کې هر ډول موضوع او مضمونه پيدا کيدای شي. د خوشال له پاسنيو څو بيتونو نه چې استاد مجروح استفاده کړې وه، د خوشال پوهنې په دې برخه کې به يې بشپړ متن راوړم:

چي قـانـع د زمـانـي پـه خشک و تـر يـم
کـه مـي پيـژنـي بـادشاه د بحر و بـر يـم

نـه مي تـخت، نـه مي افسر، نـه مي سپاه شتـه
پـه تـسـخـيـر د درست جهان ختلی نمر يـم

په درون کې مې پـراتــه دي ډير ګـنجونـه
بـه مـانـا کـې لـکـه کـان د سيم او زر يـم

کـه مي لاس لـکـه دريــاب خـالي ليده شي
د تـيـټـر دنـنـه ډک پــه دُر ګــوهـــر يـم



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د تالې په سود و زيان مې نظر نه شته
سر تر پايه درست وجود واړه هنر يم

که مې حلق له تندۍ وچ شي په همت کې
پروا دار کله په حوض د کوثر يم

لا يو شور راځنې لاړ نه وي بل راشي
مګر زه پيدا په ورځ د شور و شر يم

که لويي مې له آسمان سره سيالي کا
په پستۍ تر تورو خاورو نه بتر يم

په سپين والي کې مې زړه تر واورې سپين دی
په تور والي د دوزخ د اور شرر يم

څوک مې پرې مه وځه د قهر تر کمرو
که په حکم په سکون لکه تور غر يم

و باطن وته مې ګوره که دانا يې
په ظاهر صورت که هر څو محقر يم

د حاطم غونډې مې خيل و حشم نه شته
په عطا که له حاطمه برابر يم

سخاوت مې په تقليد په رسم نه دی
زه له ځايه د سخي بابا پسر يم

نه دا يو عيب زما، نه ډير هنره
چې بهرام زما پسر، زه يې پدر يم

په وګړي مې خبرې د مردۍ شي
په همت کې په هر لوري نامور يم

د ياقوت، د اوبو غم نه شته له اوره
که دايم د زمانې په اور کې در يم

خپل پردي سره ډير حلم هم ښه نه دی
زه دا هسې درمانده په در ګذر يم

څوک دې هيڅ ګمان پر ما د روغو نه کا
چې په مُلک کې ليونی، د هغو سر يم

لا پردي را سره برګرندي وکا
زه د خپلو په سلام کله په چر يم

څوک دې لاپې د خپلوالي را ته نه کا
چې په حال د نيک و بدو ښه خبر يم

زيست روزګار به مې له خلکو سره نه شي
زه خوشال له واړه خلکه مرور يم

(د خوشال کليات، د زاهد مشواڼي اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۴۱۲ ام مخ)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ